مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه جان هاجره حرکت

۲۰۲۳/۰۳/۲۲

نوی کال

طبیعت راته بیا نوي وږمې راوړي
د عطرینو وږمو حال مو مبارک شه

اوښتون دي زموږ ژوند کې بنسټیر شی
رسیدل د نوي کال مو مبارک شه

سپیرو دښتو ته له وربښته مستي راغله
د بلبلو سور او تال مو مبارک شه

د یووالي په هوډ بیا سره یو لاس شو
ښوونځي ته د یون لار مو مبارک شه

هوا ګانو د رنګونو کمان راوړ
هسکو غرونو زرغون شال مو مبارک شه

فضا ټوله کړه مرغیو سندریزه
سره ریدي او لاله زار مو مبارک شه

د یو نوي یون او نوي خیال په تمه
شنو طوطیانو دا احوال مو مبارک شه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ